Yoon Cultural Foundation
یون کولتوري یون
۱۳۸۷



متکور

(شعري ټولګه)

محمداسمعیل یون

۱۳۸۷ل

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

متکور

(د شعرونو لومړۍ ټولګه)

محمد اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

کتاب پېژندنه

د کتاب نوم:	متکور
شاعر:	محمد اسمعیل یون
خپرندوی:	یون کلتوري یون
چاپشمېر:	۱۰۰۰ ټوکه
لومړی چاپ:	۱۳۶۹ل کال
دویم چاپ:	۱۳۸۷ل کال
د شاعر پرله پسې نومره:	(۴)
د خپرندوی پرله پسې نومره:	(۴)
کمپوزر:	ضیاالرحمن ضیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیولیک

ګڼه	سرلیک	مخ
۱	د ((مټکور)) د دويم چاپ سریزه	۱
۲	سریزه	۵
۳	تقریض	۱۰
۴	د مټکور په باب څو خبرې	۱۴
۵	لېوني	۲۳
۶	کلیزه	۲۵
۷	زمانه	۲۷
۸	اوښکه او خندا	۲۸
۹	د عقل احساس	۲۹
۱۰	نازک خیال ته !	۳۱
۱۱	د حیا په لاس	۳۳
۱۲	ډالۍ	۳۵
۱۳	ژوندی حسن	۳۷
۱۴	غره اور اخیستی...	۳۹
۱۵	زولانه غمونه	۴۱
۱۶	د ښکلو باران	۴۲
۱۷	ازمون	۴۳
۱۸	پرهري امید	۴۵
۱۹	مټکور	۴۷
۲۰	د ماضي عشق	۴۸
۲۱	پټې خبرې	۴۹
۲۲	د اور تاو	۵۱
۲۳	د حسن لومه	۵۳
۲۴	پخه سکروټه	۵۵
۲۵	سوی اسوېلی	۵۷
۲۶	افسوس چې قبر دې معلوم وای !	۵۹
۲۷	د ماضي خندا	۶۰
۲۸	خوږلنې سترګې	۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۹	ژړغونی آه	۶۴
۳۰	تر کاڼو لاندې	۶۶
۳۱	درې میاشتې مخکې	۶۸
۳۲	هغه چاته چې ستړګې یې....	۶۹
۳۳	د وینو رود نیل	۷۱
۳۴	د وير سکروټې	۷۳
۳۵	د اوښکو جنازې	۷۵
۳۶	له جېل نه... ګیله	۷۷
۳۷	د لمبو څاڅکي	۷۹
۳۸	د خندا قتل	۸۱
۳۹	د آه سکروټې	۸۳
۴۰	غیرتي لېمه	۸۵
۴۱	د میو اباسین	۸۷
۴۲	د اوښکو سمندر	۸۹
۴۳	د خوږو مکر	۹۱
۴۴	ارام سمندر ته !	۹۳
۴۵	د تېزابو باران	۹۶
۴۶	سندرغاړي	۹۷
۴۷	د طاعون په لوپټه کې	۹۹
۴۸	د احساس لوخړه	۱۰۰
۴۹	یادګارونه یادګارونه	۱۰۱
۵۰	کاڼو ونه ژړلې	۱۰۲
۵۱	مېړتونخور	۱۰۳
۵۲	د امید څانګه	۱۰۵
۵۳	د اسرافیل شپېلۍ	۱۰۶
۵۴	د جنګ باج	۱۰۸
۵۵	د سیند په منځ کې	۱۱۰
۵۶	سوی ګودر	۱۱۲
۵۷	مړاوي اننګي	۱۱۴
۵۸	د محمد اسمعیل یون لنډه پېژندنه	۱۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ((متکور)) د دویم چاپ سریزه

متکور زما د شعرونو لومړۍ ټولګه ده، چې اساساً پر ۱۳۲۹ل کال چاپ شوې ده. ((اساساً پر ۱۳۲۹ل کال)) ورته ځکه وایم، چې د همدې کال په بهیر کې د افغانستان د لیکوالو ټولنې له خوا د چاپ پلان کې وه او د همدې کال د وروستیو درېو میاشتو په بهیر کې د همدې ټولنې له خوا چاپ ته لاړه. ترننه نږدې شل کاله دمخه، چاپ دومره پرمختللی نه و، هغه وخت د چاپ توري اکثره له سرپو نه جوړېدل یا اوسپنیز وو، یو یو توری به په ځانګړي صندوق کې پروت و، کله چې (الف) نه تر (یا) پورې هر توری په کاربده، نو بیا به حروفچین، همغه صندوق ته، ته او اړتیا وړ توری به یې را اخیسته، دا توري به یې پر یوه ډېر اوږده مېز، چې لس پنځه متره واټن به یې درلود، په همغو جوړو شویو صندوقونو یا کورونو کې ایښې وو. د یوې کلمې لپاره که د یو توري ټولوونکي تګ اوراتګ محاسبه کړو، کېدی شي سل متره پلی واټن یې هم وهلای وي، دا نو بیا د یوه کتاب په لسګونو زرو او یا هم لکونو کلمو ته محاسبه کړه. دا توري بیا یو تربله څنګ په څنګ اېښودل کېدل او پر یوه تار تړل کېدل، په دې ډول ترې یوه کلمه، بیا

کلمې، بیا جمله او جملې او بیا هم متن جوړېدل، کله چې به دې په کې سمون راوسته، هغه کلمه به بېرته خلاصېدله، خو لنډه دا چې خورا زړه چاودونو. دا کتاب ما په همغه شکل چاپ کړی دی. زه دا مهال د کابل پوهنتون د دربېیم ټولګي محصل وم، د درسونو ترڅنګ مې نور فرهنګي مصروفیت هم



درلود او چاپخونې ته به هم هره ورځ روان وم، کله چې د کتاب د چاپ او سمون لومړني کارونه خلاص شول او ماته یې وروستي توري راکړل، نو دا مهال ۱۳۶۹ل کال خدای پاماني وکړه، ما کتاب قدرمن استاد کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي او ګران ورور محمد ابراهیم شینواري ته د سریزو لپاره وسپاره، زما بل ملګري ممتاز ارمان لا وار د مخه پرې سریزه کښلې وه، څه موده نور هم د سریزو په خاطر وځنډېده، نو ځکه خو د استاد روهي او ښاغلي ابراهیم شینواري تر سریزو لاندې (۲/۱/۱۳۷۰) او (۱۳/۱/۱۳۷۰) نېټې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکل شوي، ما د لومړي چاپ او دویم چاپ پر مهال دا نېټې ځکه بدلې نه کړې، چې زموږ ګران لوستونکي د هغه وخت له چاپي بهیر سره لا ښه اشنا شي، چې د یو عادي کتاب چاپ هم هغه وخت څو میاشتني واټن ته اړتیا لرله. د زمانې څرخ تاو بېږي، چا ته صبر نه کوي، اوس چې له هغې زمانې نږدې شل کاله تېر بېږي، استاد روهي زموږ په منځ کې نه شته او د هغه په حق کې له دعا پرته نور هېڅ زموږ له لاسه نه کېږي، ګران ابراهیم شینواری او زه (یون) ژوندي او پر خپل وطن یو، ممتاز ارمان هم رانه مهاجر شوی دی. خدای(ج) خبر چې ددې شعري جونګ تر دریم چاپ پورې به موږ ته څه پېښېږي. په همدې خاطر مې د خپل تېر شلکلن فرهنګي کار پر بیا سمون، اوډون او بیا چاپ لاس پورې کړ، پر ژوند ډېر بې باوره یم او ژوند پر ما ډېر ناباوره دی، نه غواړم زما پر کړي کار سبا ته نور څوک په تکلیف شي، څه چې مې کړي، ښه دي که نا ښه، پوره دي که نیمګړي، کړه دي که نا کره؟ ښه ده چې خپله یې راټول کړم چې د ټولو پازوالي زما پر خپله غاړه شي.

راتلونکی نسل به ددې وخت ونه لري، چې زموږ په ماتو ګوډو لیکنو پسې وګرځي، د هغوی لیکنې او پنځونې باید تر موږ اوچتې وي او که اوچتې نه وي دا نو ددې مانا ورکوي، چې ژوند او فکر ولاړ دی او پرمختګ نه کوي، خو دا زموږ د اوسني نسل وظیفه ده چې خپل کارونه په خپله خلاص کړي او په هغه تسلسل کې خلل رانه ولي چې تېرو تر موږه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رارسولی او زمونږ د ندہ دہ، چې تر بل پښت یې ورسوو، د بشري ژوند ارتقا د همدغه تسلسل ترکیب دی.

له ټولو قدرمنو لیکوالو دا هیله لرم، له یوه نسل څخه بل ته کلتوري خلا پرې نږدي او تر خپله وسه پورې د وخت له تخنیکي امکاناتو ګټه پورته کړي او خپله ځاني او ملي، ټوله کلتوري شتمني خوندي کړي.

د همدې هیلې د بري په ارمان
پوهندوی محمد اسمعیل یون
کابل- افغانستان
۱۳۸۷ل کال، د سلواغې ۷مه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه

په وروستیو څلورو کلونو کې، چې کېدی شي د فرهنګي ازادۍ پیلامه یې وبولو، زموږ د هنري فرهنګ په تېره د شعر په ګلبڼ کې رنګارنګ ګلان وغوړېدل او د ادب او هنر د مینوالو زړونه یې باغ باغ کړل. رښتیا خبره داده، کله چې د هنر د ازادۍ ورېمه په غرو، رغو، کلو او بانډو وچلېږي د شعر بلبل یې د هر کلي لپاره ګلورینې ترانې وایي. د تعجب خبره نه ده حتی هغه شاعران چې د کوم طلسم تر اغېزې لاندې له ځانه پردي شوي وو، له مسخ شوي حالت نه بېرته راوګرځېدل دا سې ښکارېده چې هغوی خپله حافظه ترلاسه کړه، خپل کلی مالت او دوستان او دښمنان یې وپېژندل. زه په دې خبره بحث نه کوم چې د شعر ګلبوټي په هوسا او بسیا خاوره کې ښه وده کوي او که بحراني حالت د شاعر احساس راوپښوي او طغیان ته یې لمسوي، خو ددې خبرې یادونه ضروري ګڼم چې شعر او د تخلیق ازادي د مجنون او لیلا په شان یو له بله جدا یې نه شي زغملای، چېرې چې د تخلیق ازادي نه وه خدای خبر چې څومره خبرې به د شاعرانو په مغزو کې په ابدي خوب ویده شوې وي، څومره د شعر چینې به وچې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې وي، څومره استعدادونه به متکور پاتې شوي وي او څومره خبرې به په نه زړه ویل شوې وي، حتی هغه کسان چې له شاعر نه له پلان سره سم شعرونه غواړي د تخلیق له ازادۍ سره مخالفت نه کوي، خو هغوی د تخلیق ازادي داسې تعبیروي: موږ شاعر ته ازادي ورکوو چې زموږ دښمنانو ته کنځلې وکړي. دا دی د تخلیق د ازادۍ اصلي او ژور مفهوم.

زه پوهېږم چې ځینې کسان به ددغو یادونو په لوستلو سره بې حوصلې شوې وي او وبه وایي چې دا خو زړې بابولالې دي، د هغو تکرارول څه ګټه لري؟ ښه، دا نصیحت به ومنو خو دا هم باید ووایو چې په تاریخ کې سپین فصل نه شته. زما ښه په یاد دي چې د داود په جمهوریت کې د تاریخ په درسي مفرداتو کې د ظاهرشاه دوره حذف شوې وه او له موجودیت نه یې انکار شوی و خو ما ورته وویل چې په تاریخ کې سپین فصل یوازې په اسطوره یې دوره پورې اړه لري او بیا هغه خالیګاه ډکه شوه.

موږ غواړو پر دغه ټکي زور واچوو چې فرهنګ یوازې د دموکراسۍ په فضا کې وده وکولای شي، که څوک غواړي چې په دې خاوره کې فرهنګ وغوړېږي نو باید د نوښت ازادۍ ته درناوی وکړي، په تېرو څلورو کلونو کې سره له دې چې جګړې زموږ خاوره دخپلو بچیانو په وینو ولمبوله، ودانۍ یې په کنډوالو بدلې کړې، د کونډو، بورو او یتیمانو اسوېلو یې د فلک مانۍ توره کړه، باغونه، ځنګلونه یې پو پناه کړل او مادي هستي یې تالا کړه خو له دې ټولو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره د فرهنګ په برخه کې د يوې نسبي ازادۍ له برکته يو څه تنوع او ښکلا ليدله کېږي.

د دولس کلنې جګړې په وړاندې د شاعرانو انتطباعات او تاثرات يو شانته نه دي. څوک د اتلانو حماسې انځوروي، څوک د شهيدانو پر مقبرو اوښکې تويوي، څوک د سولې ارمانونه بيانوي، څوک وران کلي او زړې خاطرې راپه يادوي، څوک د نهيلۍ او بېوسۍ نغمې غږوي، څوک سباوون ته په تمه ناست دي او ځينې په تورتم کې د اميد مشالونه ګوري.

د (متهکور) په نامه د شعرونو دغه مجموعه چې د ځوان او حساس شاعر، اسمعيل يون د اندېښنو امېل دی، د پښتني غاړې لپاره په ډېر ظرافت جوړ شوی دی، دا مجموعه د پښتو په فرهنګي ګالرۍ کې يوه ښکلې تابلو ده، چې له خپل ولس سره د اورنۍ مينې په زمينه کې انځور شوې ده، دا مجموعه د صداقت او وجدان غږ دی چې د يوه فرهنګيالي ځوان د احساساتو ترجماني کوي او څه چې وايي شاعرانه مګر رښتيا دي.

که څوک ددې مجموعې په لفظي اړخونو څېړنې کوي نو ښايي چې په لوی لاس به خپل ځان له هغه هنري اتذاذ څخه

بې برخې کړي چې د شعر په کليت، انسجام، تصوير او رسالت کې پروت دی. د ځوان شاعر اسمعيل د شعر هره ټوټه يوه هنري

(c) ketabton.com: The Digital Library

تابلو ده چې په هغه کې ښکلا، تناسب او د خیال ظرافت ځان ښکاره کوي. اسمعیل یون د خپل وخت تصویر ایستلی دی او په دغه تصویر کې یې خپل موقعیت هم ښودلی دی.

هو، هغه متهکور شوی پاتې دی او ولې به متهکور نه پاتې کېږي. هغه شاعر دی، زموږ د وخت شاعر چې نه یې ((لېوني)) خوښېږي او نه له ((هوښیارانو)) سره په یوه لاره تللای شي. دده برخلیک دادی چې متهکور پاتې شي او زموږ اکثر شاعران همداسې دي. زموږ د وخت شاعر له معنوي ویاړ نه پرته بل هېڅ نه لري او نه یې لرلی شي: ((دواړه نه کېږي رحمانه یا به دین کړې یا دنیا.)) خو څوک چې معنوي ویاړ لري هغه په واقعیت کې هر څه لري.

خرقه پوشو په خرقه کې دی موندلی
هغه حظ چې په دنیا کې دنیا دار کا

د اسمعیل یون شعرونه تر زیاتې اندازې له خپل کلتور سره تړلي دي او له خاصو حالاتو نه یې رنګ اخیستی دی. دا تصادفي خبره نه ده چې د شاعر په تصویرونو کې د اور لمبې، د وینو څپې، د اوښکـو سیند، قطار قطار جنازې، اغزنه خوني لار، د تېزابـو باران، اورنی اسمان او بـالاخره سوی اسمعیل تر سترګو کېږي. شاعر هغه څه ته اریان پاتې دي چې نور خلک هم ورته اریان دي: د وینو سوداګري د معنویت

(c) ketabton.com: The Digital Library

سقوط، د عقیدې او اعتماد بحران، د شخصي ګټې په مقابل کې له ټولو اخلاقي نورمونو نه تېرېدل او داسې نور.

زه نه غواړم چې د دغې مجموعې په باره کې د خپل برداشت ټول اړخونه بیان کړم او یا دده د اشعارو مضمون تفسیر کړم. پرېږدئ چې لوستونکي دده شعر ته له خپلو عینکو څخه وګوري، په دې مجموعه کې رمزي شعرونه هم شته، خو څوک چې له مونږ سره او سېږي هغوی په اسانۍ سره په دغو رمزونو پوهېدی شي. اسمعیل ځوان دی او ځوانان خپل احساسات نېغ په نېغه بیانوي زه فکر کوم چې زمان به دغه د استعداد خاوند شاعر ته لا زیاتې هنري هستونې وړ په برخه کړي.

په درناوي
کاندید اکاډمیسین
محمد صدیق روهي
د خوشال د فرهنګي ټولنې رئیس
۲/۱/۱۳۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقريض

هسې خو په ټولیزه توګه ژوند د خوږو ترخو ، لوړو ژورو ، بریو ناکامیو ، امیدونو او نهیلیو نوم دی. خو د ژوند د ژورو تل ته رسېدل او د تیاره ګوټونو کشف د هر چا کار نه دی. د ژوند د ربښتیني مانا پیدا کولو او پېژندلو لپاره بینا سترګو ، حساس ذهن، له ولولو ډک زړه او بلیغې ژبې ته اړه وي او د همدغه ځیزونو څښتن ته شاعر وایي.

هغوی چې د شعر او شاعر ارزښت او استادۍ ته نه دي ملتفت کله له شعر نه علم غواړي او کله فلسفه او سیاست. په داسې حال کې چې علم او سیاست د یو شمېر ټاکلو پرنسیپونو او فورمولونو د ننه د نړۍ فورمولیکه شرحه ده او شعر د الهام پایله. خو له نېکه مرغه زموږ زلمی وینا وال اسمعیل یون د شعر ضرورت او رسالت په ربښتیني مانا درک کړی او ان له تنکي زلمیښې یې په پوره ځان خبرۍ د شعریت په لار یون کړی دی، ښه ټینګ او پاخه ګامونه یې ایښي او امید دی چې د پښتو شعر د لا لوړو پوړیو په لور نور هم ګړندي، ارزښتمن او اغېزمن ګامونه پورته کړي.

ځکه یون یو داسې شاعر دی چې د شعر په ټولو باریکیو او نزاکتونو پوهېږي او زیار یې ایستلی دی، شعر ولیکي کله یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل مظلوم او محکوم ولس په مظلومیت او محکومیت غم او خواشیني ځرګنده کړې ده. کله یې د خپل غیرتي او ننګیالي ولس په بریاوو ویاړلي دي، کله یې د ټولنیزو بدبختیو په وړاندې احتجاج او ګوتڅنډنه کړې ده او کله یې له خپلې مجبورۍ او بېوسۍ سر ټکولی، نو د کنایو، استعارو، تشبهاتو او الفاظو په شاعرانه کارونې سره یې شاعرانه ویاړلي، ګواښلي او ژړلي دي:

څومره مو مینه د احساس رګو کې ننوته
لکه منصور د دار ختلو سره مینه کوو

یا:

دود شو تکل د اسوېلیو په اور
ورته پرهر زړه ارماني وخندل
نور د سبا د حسن شونډې موښې
په توند (شمال) باندې ماضي وخندل

یا دا چې:

چا د اور په سترګو کې لیدلې د اوبو مینه
عقل بې احساس دی په لمن کې د پردو رغړي

او د ډېرې خوښۍ ځای دی چې زموږ شاعر د منځپانګیز نوښت ترڅنګ جولیز نوښت ته هم متوجه دی د غزلو ترڅنګ یې ازاد شعرونه هم لیکلي، ښایسته او خواږه وییونه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارولي، نوي سمبولونه او ترکيبونه يې زېږولي، د مضمون رنګيني او تنوع ته يې تر خپل وسه پام ساتلی او ژبه يې کره او معياري ده او د شعرونو دا جونګ يې د ډېرې ستاينې او بيابيا لوستلو وړ دی. خو په خواشينۍ زموږ ښه او قدرمن شاعر د خپلو ډېرو برياوو او ښېګڼو ترڅنګه ځينې ښويېدنې هم لري، کله کله يې د ځينو ناپېژندلو سمبولونو په کارونې سره د شعر ځينې بيتونه ګونګېږي او روڼ مفهوم نه شي ښندلی لکه:

ځو مره د مکر تخيل ته کښته شوی نرم؟
په نوم د ميو راته مخکې ږدي پيالې د اوښکو

يا دا چې کله کله يې ډېر خاص او يوازې په همده پورې مربوط مسايل نظم کړي دي، چې نه يوازې عام نه دي، بلکې په خاصو مواردو کې هم کوم شعري ارزښت نه شي درلودای او زه افسوس کوم چې دربغه هغه يې په يو داسې خوندور جونګ کې نه وای راوړي لکه ((درې مياشتې مخکې)) او ((يادګارونه يادګارونه)). په هره توګه زه دغه جونګ يو ارزښتمن او ګټور اثر او د پښتو شعر په ځولۍ کې يې يوه رنګينه او په زړه پورې زياتونه ګڼم او يقين لرم چې درانه لوستونکي به ددې شعرونو له لوستلو پوره خوند واخلي او خپله شعري تنده به پرې ماته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس همدومره
د ملګرتيا په خلوص او مينه
ممتاز ارمان
۱۰/۱/۱۳۶۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متکور په باب څو خبرې

اوس زموږ مخې ته يو داسې کتاب پروت دی چې په هغه کې د انساني احساس او تخيل يو عاطفي تړون پروت دی او هغه د ګران اسمعيل يون شعرونه دي.

شعر په خپل څو اړخيزتوب د يوې جالبې پديدې شکل نيولی دی او دا ځکه چې د انسان جوړښت، هيلې او احساسات چې څومره بېلابېل دي، نو هماغومره يې د دغو احساساتو او هيلو د بيان ډول بېل دی او ځکه موږ بايد هر شعر يوه نوې زېږېدنه وبولو.

شعر د انسان د نه بيانېدونکو ژورو حسي-عاطفي حالتونو د بيان سمبول دی. هغه څه چې په زړه کې ګرځي او ده ته د يوه موجود حقيقت په شان ښکاري، دی يې د شعر په وربښمين پوښ کې نغاړي او موږ ته يو ښکلی لذت بښونکی پيغام کېږي. شعر ځکه په خلکو ښه لګي چې شعر د احساساتو او مينې او معنوي غوښتنو د بڼ په ګلانو کې د سحرنۍ پرخې څاڅکي دي، چې ښکلا خوښوونکی ذوق ارضا کوي او د ماتو زړونو، ژوبلو احساساتو او لطيفو هيلو نه اورېدونکی او غلی اواز دی چې يوازې د حساس انسان د زړه او مغزو په برجونو کې د مينې زلزله راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر شعر د شاعر د ځانګړي فکري حالت محصول دی. چې شاعر بیا طبعاً د ټولنې، چاپېریال او پېښو نه اغېزمن شوی دی او که د خپل رسالت سرته رسول غواړي، نو خپل احساس په رښتیني ډول وړاندې کوي.

د اسمعیل یون شعرونه ددې وروستیو کلونو شعرونه دي او حتماً په کې د همدې کلونو د پېښو او ټولنې انځور وینو هغه کلونه چې زموږ باتور ملت د اور او وینو په سمندر کې ولامبل، د ازمونونو په ازمون کې لا ژوندی دی او د خپل حیثیت او غرور او ستروالي ثبوت لپاره یې ویاړنې هستې کړي.

که په شعر یا لیکنه کې لیکوال په صداقت سره یو څه نه وي ویلي، نو هېڅکله به همېشني نه شي او ځکه زما په نظر هغه څه چې د اسمعیل یون د شعر تر ټولو لوی بریالیتوب دی، هغه دده په بیان کې صداقت دی، هغه د پغمان د جنتي چینو په غاړه د افریقا د سارا له ګرمۍ نه فریادونه نه کوي، خو د کب په شان چې د سرو تېلو په منځ کې وي ثنا هم نه وایي.

هغه، هغه څه وایي چې محسوسوي یې، ویني یې او پرې پوهېږي، هغه د اوسني بهیر رښتینی حالت بیانوي او خپل عاطفي احساس ورسره په صادقانه ډول یوځای کوي، د بېلګې لپاره (د خندا قتل) او ځینې نور شعرونه کتلای شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله مسئله چې د اسمعيل په شعرونو کې په څرګند ډول ليدل کېږي، هغه يو سپېڅلی بغاوت او خپلواکه سرغړونه ده، د استاد الفت د وينا له مخې شاعران په هګيو کې د مرغانو الوتنې او د لمر سپېدو په څيري ګرېوان کې د لمر پلوشې ليدی شي او : ((شاعران له قيد و شرطه بې پروا وي)) نو ځکه موږ د يون په شعر کې هم دغه شان شعرونه لولو:

د عشق نظر نه شول لمبه لېوني
تورو تيارو کې شول ډيوه لېوني
ميکدې خود د زهد اور کې ناځي
په کې د بېره نه دي هغه لېوني
د عشق په تور يې په دار مه ځروئ
کله کوي چا ته سجده لېوني
زموږ په کور به لمبې وي لا
ترڅو چې پاتې وي دا دوه لېوني.

(د جنګ باج) او ځينې نور شعرونه هم په دې باب د ځانګړې پام وړ دي.

اسمعيل يون په خپل شعر کې ډېر ژور حالتونه انځوروي او دا د پښتو د ولسي شعر هغه غوره عنعنه ده، چې نن سبا د نړيوال معاصر شعر يوه مهمه ځانګړنه هم ده او اوس په پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاصر شعر کې هم پیل شوې ده. د ((درې میاشتې مخکې))
شعر د یوه عشقي حالت ډېر دقیق بیان دی، همدا راز د ((غره
اور اخیستی)) ((مېړتونخور)) او ځینې نور شعرونه. د
کاناډايي شعر پېژندونکي ایزابل مور په عقیده، تېرېدونکو
او ځانګړو شکلاوو ته تم کېدل، د حالت انځورول او د
نامحسوسو غوښتنو بیان د اوسني شعر یوه خاصه عنعنه ده،
د لاندې بیت په لومړۍ برخه کې یو ځانګړی حالت په ډېر ساده
ډول بیان شوی دی:

زما زړګی درزا کړي او د تا شونډې رپېږي
دي څومره خوندورې زما وستا پټې خبرې

مینه او الفت لکه څنګه چې د انسانیت د خلاصون لاره ده، د
شعر د ملکې د ظهورولو عامل هم دی شاعر او مین زیاتره
وختونه په یوه مانا کارول کېږي. انساني مینه ((د انساني توکم
بقا او دوام)) دی او د انساني مینې په خم کې رنګ شوي
شعرونه همېشني او تلپاتې شعرونه دي. د اسمعیل یون په
شعر کې د انساني مینې او عاطفي نوښتیز بیانونه د
((یادګارونه یادګارونه))، ((سوي اسوېلي))، ((کلیزه))،
((د عقل احساس))، ((د حسن لومه)) او ((پخه سکروټه)) تر
سرلیکونو لاندې لولو. له ((سوي اسوېلي)) څخه دا څو
بیتونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سترګو په خوږو کې ډوبېدم نه پوهېدم
د مینې په لمبو کې تاوېدم نه پوهېدم
احساس مې عقل پرېښوده په لاره د جنون
منصور ومه په دار کې ځړېدم نه پوهېدم
موسکی شه لا هم نوره زما سوو اسوېلو ته
ساده وم چې په تا مینېدم نه پوهېدم

د اسمعیل شعر که د مینې او ښکلا پالنې هر څومره ښکلې بیانونه دي خو ورسره د هېواد او ملت له ژورې مانا نه هم ډک دي، زیاتره غزلونو کې د ښکلا او مینې تر رنګینو پوښونو لاندې د هېواد پالنې، انسان دوستۍ، سپېڅلې بغاوت، حق خوښوونې او خپلواکۍ ترانې پرتې دي. دا د پښتو د اوسني غزل یو مثبت برې دی چې د ښکلا او مینې تر پوښ لاندې د ژوند د ارزښتمنو مسایلو خواته عامه ذهنیت اړوي په لاندې بېلګه کې په ډېر خوندور ډول همدغه شان بیان شته:

چامو د مینې د جانان زلفو ته اوړونیوه
چې شنه دودونه یې زموږه په شعرو کې ځلي
زما د عشق ستونی دې لوند نه کړ پرې یو ځلې هم
څه که د میو اباسین دې اننګو کې ځلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسمعیل یون یو مسول شاعر دی او تل په خپل شعر کې د
هېواد د تاریخي جریانونو په پام کې نیولو سره د خلکو،
ټولنې او هېواد پر وړاندې خپل مسئولیت نه هېروي. هغه له
خپلې مینې نه غواړي چې ((نور یې د سترګو په جادو کې بند نه
کړي او پرې یې نږدي چې د منصوري وطن د غم او اور د توپانو
سترې کاروان او د وطن د بچو د ویرونو فریاد او د ځوانانو او
زلمو قطار، قطار جنازې ووینی)) او همدغه حالاتو هغه
مجبور کړی چې له خپل شعر نه د همدردۍ یوه ډالۍ جوړه کړي
او ((په داسې حال کې چې نور د باران نه لاندې د میو په سیند
کې له جانان سره غوټې وهي او خاندي او د ګلونو په بستر کې
یې په نرمو شونډو، شونډې ایښې وي، خو دی (یون) د دردمن
او د احساس په اور کې د کړېدلي انسان په توګه خپله ډالۍ
داسې وړاندې کوي:

د شعر د بزم د مسرو ګلونه
د خپلو اوښکو په تار پېیم ترې امېل جوړوم
ډالۍ کوم یې ورته
یوه د درد او د شعرونو ډالۍ
د زړه د سوز او پرهرونو ډالۍ))
او د شاعر ډالۍ باید همدغسې وي.

د اسمعیل یون شعر د شکل له مخې ډېر ښکلی او په زړه
پورې دی. غزل یې د یوې ځانګړې ښکلا خوښوونې او لوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذوق، اوچتې قریحې، استعداد او مینې څرګندوی دی او له ښکلو ترکیبونو، انځورونو، تشبیهاتو، استعارو نه ډک دی.

ازاد شعر یې هم خوندور او زړه راښکوونکی دی او له انساني عاطفې او غني انځورونو نه ډک دی.

یوه بله خبره هم د یادولو وړ ده، هغه دا چې کله موږ یو شعر لولو نو په دې هم باید پوه شو چې ایا شاعر خپل د ننني احساس بیان کړی دی او که هسې د ورځې د مود مسایلو ته اړم شوی دی؟ د اسمعیل یون د شعر په څو کوچنیو بېلګو کې موږ ولیدل چې د هغه بیان مسولانه، زړور او صریح دی او هېڅ ډول تکلف او تصنع په کې نه شته، نو باید وپوهېږو چې ایا هغه په خپله هم دغه شان دی او که نه؟ زه چې د دوه کلونو راپه د ېخوا له هغه سره د ډېرې نږدې اړیکي لرم، نو هغه مې په عملي ژوند کې هم یو صادق او زړور انسان موندلی دی، هغه چې هر څه وایي دده له ژورې مینې او د ډېر پاک احساس نه راټوکېدلي وي. هغه له شعر سره مینه لري، هوس یې نه کوي ځکه دده ته شعر په خپله یو هدف دی، داسې هـــــدف چې هغه پرې د خپل زړه پرهرونه ټکـــــوروي او د غمــــونو پېټی پـرې سپکـــــوي او نورو دردمندانو ته یې هم وړاندې کـوي. روانو بدمرغه پېښو هغه ته درانه عاطفي زیانونه رسولي دي، چې ددغو زیانونو اغېزې دده شعر ته یو ځانګړی سوز او ساز ورکړی دی او علت یې کولی شو د ((افسوس چې قبر دې معلوم وای...)) په شان شعرونو کې ومومو. خو له دې سره سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه بل هدف د هېواد د لوړتیا په لار کې خدمت کول دي، ددې لوړ هدف لپاره کله د شعر نه د وسیلې په توګه هم کار اخلي او په دې خاطر خو په مجموعې ډول د هغه شعر مقاوم او ثابت شعر دی چې د سوو فریادونو په لوګیو کې یې هم د خندا ګلونه ټوکېږي او د موسکا غوټۍ خولې سپړي. هغه که د ژوند د ازمون د اور په سره بټۍ کې د جوارو د دانې په شان په اور اوښتی را اوښتی او مټکور پاتی شوی دی، نو د احساس او عاطفې په بڼ کې د مینې د نسیم وږمو د یوه ښکلي ګل په شان غوړولی دی، چې د شعرونو نغمې یې زموږ د زړونو تارونه خوځوي او ځانګړی خوځند عاشقانه حالت رابښي.

زه دده د شعر په باب نور څه نه وایم، ځکه د یوه هنري اثر د ډېرې ښې پېژندنې لپاره په خپله د هماغه اثر لوستل تر ټولو اسانه لاره ده، خو خپلې خبرې په دې ډول رالنډوم: سره له دې چې اسمعیل به لا تراوسه د ځانګړي سبک خاوند نه وي او کېدی شي په ځینو مواردو کې د سایل او سلیم تر اغېزې لاندې راغلی وي، خو په شعر کې یې نوښتګر خوځون، د سپېڅلي احساس زړور بیان، د ځانګړي ښکلا ییز ذوق شته والی ، مسولیت ته ځیرتیا او له شعر سره د زړه له کومي مینه او اړیکي او ترون موږ ته دا هیله پیدا کوي، چې ډېر ژر به د هغه شعر نور هم پرمخ لاړ شي او د ځانګړي سبک خاوند به شي. په دې هیله چې دده شاعرانه احساس تر پایه دې ته ځیر وي چې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګـوره احـساسه هـغه کـور کلی یو ازې نه کړې !
چې ګرېوانو کې یې ټول عمر ګرځېدلې اوښکې
ده ته د شعر په لار کې له مینې ډک، بریالی او پرمخ تلونکی یون غواړو.

په مینه او درناوي
ابراهیم شینواری
۱۲/۱/۱۳۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېوني

د عشق نظر نه شول لمبه لېوني
تورو تیارو کې شول ډېوه لېوني

میکدې خود د زهد اور کې ناخې
په کې د ېره نه دي هغه لېوني

دا چې بې درېغه پرې قدم ږدې اشنا !
کلي کې نه شته دي سوچه لېوني

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عشق په تور يې په دار مه ځروئ
کله کوي چاته سجده لېوني

زمونږ په کور به لمبې بلې وي لا
تر څو چې پاتې وي دا (دوه) لېوني.

۲٦/۵/۱۳٦۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

کليزه

شعره ! ګلونه شه غوټۍ شه پاڼې پاڼې شه
د ميو پاڼې
لاړ شه ! زما د يار په نرمو او خوږو زلفو کې
وځلېږه
وخنده
او زما د زړګي
د خوږې مينې د اسرو او اميدو له تله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته په مینه مینه
مبارکي ووایه
نن یې کلیزه ده
د ژوند کلیزه
یوه د حسن او ښکلا کلیزه
د اسمعیل د محبوبا کلیزه.

مرکزي لیلیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمانه

چــــا زمانــــه څــــوک زمــــانې وخــــوړل
چــــا میخانــــه څــــوک میخــــانې وخــــوړل

زمــــا د عشــــق تنکــــي تنکــــي ګلونــــه
د تــــا د ســــترګو پیمــــانې وخــــوړل

د اســــمعیل ســــپېره مېــــره ملګــــري
مــــنم چــــې خپلــــې یــــارانې وخــــوړل.

۱۳۶۷ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښکه او خندا

زه اوښکه اوښکه شم پر مخ راشمه
ته ټول هوس شې او بیا وموسېږې
زه اسوېلی شمه د سوو هیلو
ته په نڅا شې او کړس کړس وخاندې
نو زما و ستا یارانه نه شي سره
ځکه چې اوښکې خندا نه جوړېږي.

۱۹/۱۱/۱۳۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عقل احساس

ستا د غمبورو د ښکلا سُرخي چې ځل ووهي
زما زړګی ورته له تندې ځنې جل ووهي

د شونډو جام نه دې خواږه په نورو مه دوړوه
د مینې تاو مې درنه خدای مه کړه اجل ووهي

د زړه پر تل مې پرهرونه سره او شنه غوندې شي
کله چې ټال دې سره ګلونه په وربل ووهي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د عقل احساس دود شولو د مکر په اور
ثنګه به حسنه امیدونه ستا منزل ووهي

لړ دې ګورين نظر په سترګو کې تسل نخوه
چې مې زړګی د مينې سختې په تکل ووهي.

۱۱/۲/۱۳۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازک خیال ته !

ته لا تر او سه پورې
د عشق په اور کې
د سکروټو په سر
تنها کې شوی نه یې

ته لا تر او سه پورې
د اسوېلیو او آهونو په اور
لکه نینه د اسې اوښتی نه یې

ته لا تر او سه پورې
د غم تنور کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اور لړوني غونډې
لوغړن شوی نه يې
نو نازک خياله !
د خوښيو خياله !
د هوسونو خوشاليو خياله !
لاړ شه د عشق د اور په ګرمو لمبو
خپله سينه وموښه
او د احساس په سيند کې ولمبېږه
بيا نو راځه !
موږه د اور بڅرو
تر کاڼو کلکو سره
د عشق او پاکې مينې
په نوم سنګر ونيسه
او د اسمان کاڼو ته سر ونيسه !

۱۴/۸/۱۳۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حیا په لاس

عشـــقه لېـــونی شـــو مه د تـــا پـــه لاس
زړه دې زمـــا ورکـــړ د بـــل چـــا پـــه لاس

هجـــر د زړګـــي تـــل راتـــه وســـېزه
خـــدای خـــو دې نـــور واخلـــي د بـلا پـه لاس

رســـي د امیـــد کـــاروان منـــزل پـــورې
تـــم کـــه چېـــرې نـــه شـــي د جفـــا پـــه لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکــو یارانـــه کـــې رنګینـــۍ وکــړې
زه هســــې ګیـــر شـــوی د حیـــا پـــه لاس

څنګـــه بـــه تنـــدی پـــه ځمکـــه نـــه وهـــم
ویــــنم جـــام د میـــو د مــــلا پـــه لاس

بختـــه ! ګـــدایي بانـــدې دې مـــه ژاړه
د پـــرې ښـــکلې لـــو بړې د ګـــدا پـــه لاس.

۱۵/۵/۱۳۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالۍ

نن د دیدن په ورځې
د اوراو وینو تر شپېو نه وروسته
څوک د عطرونو تر باران نه لاندې
د میو سیند کې له جانان سره غوټې وهي او خاندي خاندي
څوک د هوس په میو
د مرغلرو د خوندو له پاسه
رغړي را رغړي مینه مینه وايي
چا د ګلونو په بستر کې
شونډې ایښې دي په نرمو شونډو
او د عشقونو د خوندو جامونه
بې دریغه دریغه په سرو اړوي
خو زه له درد نه رغېدلی انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اور په څنو زنګېدلی انسان
د احساس اور کې کړېدلی انسان
نن د سرو اوښکو او د وینو د موسم له بهه
خپلې خوږې مینې ته
شاعرانه او ښکلو سترګو ته يې
پستو پستو خماري زلفو ته يې
د شعر د بزم د مسرو ګلونه
د خپلو اوښکو په تار پیېیم
ترې امېل جوړوم
ډالۍ کوم يې ورته
يوه د درد او د شعرونو ډالۍ
د زړه د سوز او پرهرونو ډالۍ

۱۳۶۷ ال کال **۵** مه میاشت
د لوی اختر دویمه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندی حسن

مور ملامت یو چې له ښکلو سره مینه کوو
د زړه په وینه نازولو سره مینه کوو

چا ده لیدلې د اورونو سمندر کې غوټۍ؟
مور لېوني یو چې له ګلو سره مینه کوو

نور یې نظر د اننګو په میو ولمبوي
مور یې د تشې خولې خندلو سره مینه کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک لمبه شي د ژوندي حسن له مينې څخه
موږ ساده زړي خو له تللو سره مينه کوو

څومره مو مينه د احساس رګو کې ننوته
لکه منصور د دار ختلو سره مينه کوو

اړوه جام دې د خوږو سترګو په سترګو کې مو
موږه اورونه له اورڅښلو سره مينه کوو.

۵/۷/۱۳۶۷
مرکزي ليليه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غره اور اخیستی...

نن د ښکلا د غرو د ښکلو شنو ناوونو په تل
هلته چې سپينې غيرتي اوبه به تل بهېدې
د عشق د زانګو د بچيو وينې دارې وهي
رود سور بخن غوندې دی
او شاوخوا تيرې يې هم په وينو ولمبېدې
اور ورته ناڅي له خندا نه شين دی
ان هلته لرې يې په تالو او ډاګونو کې هم
له ډېره تاوه د سيسيو بچي وسوزول
ځکه چې لرې لرې څه وړاندې هلته
پر هغې تورې غټې تيږې باندې
يو ښکاري (باز) ناست دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنجې يې سرې دي د سيسيو د زړګو په وينو
او خپل وزرونه په غرور ټېوي
(شاهين) هم پاس د اسمانو له څوکو
د ښکار نظر تړلی
څو چې د زرکو سينې وڅيري په خپلو پنجو
خو لاندې ګوري چې غره او راخيستی
له ګڼ ځنګله څخه لوخړې خېږي
او د مرغانو بچي سېزي په کې
څوک يې لمبې نهويني
څوک يې اواز ناوري.

۱۳۶۲ل کال د سلواغې مياشت

(c) ketabton.com: The Digital Library

زولانه غمونه

غمونه مې ترلو په غمو کې زولانه
لمبې مې بلولې د خرد په ګرېوانه

غیرت به مې اغیارو ته ښودلی د پښتو وای
په مخ کې که مې خندل نه وای (بې ننګه) پښتانه.

۲۲/۵/۱۳۶۲
خوشال خان لېسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښکلو باران

دلته د ښکلو باران
په لپو لپو ډکو ډکو کاسو
د خمارې وریځو له شونډو څخه
اوري را اوري نازولو باندې
خو پر دې وریت اسمعیل
په دې ستې او کړېدلې باندې
د غم په څښو زنګېدلې باندې
یو څاڅکی هم نه اوري
یو څاڅکی هم...

د ۱۳۶۷ ل کال د غویي میاشت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازمون

عقل مې د عشق په تکل اور کې په لمبو رغړي
مينه مې خوږلن کې په انګار او په ايرو رغړي

(نن) راته په سترګو کې لمبه د قهر تاوه کړه
هيله مې له دې هم د سکروټو په سرو رغړي

خومره د اميد په مينه نازي مې ګوګل کې زړه
عشق باندې په مالګو کې په خپلو پرهرو رغړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا د اور په سترګو کې لیدلې د اوبو مینه؟
عقل بې احساس دی په لمن کې د پردو رغړي

بیا نازکو نرمو له ازمون نه پښې وکښلې
موږه مټکورو سره چېرته په اغزو رغړي

ښکل به مې امید کړي د سره حسن اننګي په عشق
ځکه چې نن وخت ورته په پښو کې په توبو رغړي.

۱۵/۱۲/۱۳۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرهري امید

د دوزخي شونډو له خوند نه چې خواږه وروې
په پرهرونو مې د مالګو کاڼي ته وروې

څنګه به عقل د جنون په اور کې ونه رغېږي
دا سې خوندونه د وختونو خو پرې نه وروې

دود شو زړګی مې ستا د حسن د ښکلا په نظر
د مکر دام دې له خوږو څنې ترخه وروې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د شاعر د قلم تاو به عقل لولپه کړي
د سترګو اور چې ورته تل په ګرېوانه وروي

خود به لمبه شي ستا نظر نه مټکوره نيني
د اورنيو شونډو تاو نه چې پرې سره وروي

۱۳٦۷ ل کال، چنګابن

(c) ketabton.com: The Digital Library

مټکور

زه د ارمان لپاره
لکه د جوارو دانه
د اور بټۍ کې
د ازمون په ګوتو
په مینه مینه
په اور واوښتم راواوښتلم
خود لمبو له تاوه
سپینه پولۍ نه شولم
او د خوږې مینې
د عشق له زوره
د اور لمبو کې
مټکور پاتې شوم.

۳/۱۱/۱۳۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماضي عشق

اشنا دا ستا د ماضي عشق له زوره
زه له خوند و د ننني ووتم

عشقه دا ستا د رنګينو جهان ته
خالي راغلی وم خالي ووتم

۲۱/۴/۱۳۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

پټې خبرې

ته به څو مو په منځ کې وي اشنا پټې خبرې
د مینې د رازونو او حیا پټې خبرې

زما زړګی درزا کړي او د تا شونډې رپېږي
دي څو مره خوندورې زما و ستا پټې خبرې

سوزېږو به پرې زه او ته اشنا او زموږ مینه
زما او ستا په باب کړي نور همدا پټې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنیا رقیب رقیب شوه او وختونه غمازان شول
مجبوره یو چې وکړو یاره بیا پټې خبرې

چا ویل درته چې وایه اسمعیل ته پټ رازونه
اخر یې درته ټولې کړې رسوا پټې خبرې.

۴/۱۰/۱۳۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اورتاو

د زړه تــــوتې مــــې پـــه انګــــار ونيســـئ
ژونـد تـه مـې غـم عشـق تـه مـې دار ونيسئ

اخلـــم لــــذت د خــــوږې مينــــې ترېنـــه
مـــا د غـــم زور تـــه پـــه وار وار ونيســـئ

پـــام چــې رقيبــو لـــه څـــه ونـــه وايـــئ
زمـــا پـــه قتـــل بانـــدې يـــار ونيســـئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکـــو راځـــئ د خـــوږې مينـــې پـــه نـــوم !
د اور پـــــه تـــاو مـــا ګناهکـــار ونيســـئ

د اســـــمعيل خـــــړو ســـــپېرو ملګـــــرو
ســــورکې ډيـــوه مـــې پـــه مـــزار ونيســـئ.

۱۹/۷/۱۳۶۷
مرکزي ليله

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حسن لومه

عقل کې ستا شیرین نظر ونښېد
ځکه جنون شو سر په سر ونښېد

د حسن لومه دې په ناز غوړوه
چې په سینه کې مې ځیګر ونښېد

وینې د مینې د ازمون وختونه؟
سر مې د مرګ په تود ډګر ونښېد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د خوارہ نظر په تونـد کتلـو
د زړه په تـل کـې مـې پرهـر ونښېـد

لمبه د ګرمو شوندو مه بلوه
تڼاکي زړه مې په نشتر ونښېـد

څومره دي حسن کـې غـرور تـاو شـوی
شوخو کتلـو تـه دي لمـر ونښېـد.

۲/۱۱/۱۳۶۵
رحمان بابا لیسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخه سکروټه

عشـــقه جنـــون ومـــه څـــه نـــور خـــو نـــه وم
یـــو اســـو یلی ومـــه څـــه اور خـــو نـــه وم

ســـتا نـــاکردې دي څـــه ویلـــی نـــه شـــم
د ټنګـــــه ســـرو د پېغـــــور خـــو نـــه وم

چـــا درتـــه ویـــل چـــې پـــل پـــر زړه ږده زمـــا
پخـــه ســـکروټه وم لا ســـکور خـــو نـــه وم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې دې وریت کړم اننګیو کې ژړ
لکه اوربل پرې باندې خور خونه وم

دا خو د تا د حسن اور سوی یم
که نه له سره دومره تور خو نه وم.

۱۵/۵/۱۳۶۲
خوشال خان لېسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوی اسوېلی

د سترګو په خوړو کې ډوبېدم نه پوهېدم
د مینې په لمبو کې تاوېدم نه پوهېدم

احساس مې عقل پرېښوده په لاره د جنون
منصور ومه په دار که ځړېدم نه پوهېدم

دا ستا د مینې زور و که د عشق د خوړو تاو؟
په نره چې په اور کې نخښدم نه پوهېدم

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیرت کې شو غیرت زما د مینې په ازمون
سور ګل غوندې بې وخته رژېدم نه پوهېدم

موسکۍ شه لا هم نوره زما سوي او سوېلو ته
ساده وم چې په تا مینېدم نه پوهېدم.

۳۱/۳/۱۳۶۶
لغمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل پلار د شهادت د تلین په درنښت.

افسوس چې قبر دې معلوم وای !

ما به د ګرم احساس وینو باندې
د عشق د پاڼو د خندا په څپو
ستا د تناک امید پولۍ لیکلې
او د تیزابو د اورونو په سیند
به لمبېدلم ستا د عشق د تکلونو په زور
هر مازیګر به مې د پېغلو د وربل ګلونه
د خپلو سپینو توپانې اوښکو له سپینو امېلونو سره
د اور په رنګ باندې لیکلو سرو شعرونو سره
تا پر مزار شیندلو پاڼې پاڼې
افسوس چې قبر دې معلوم وای
افسوس چې قبر....

۱۳۶۲ ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماضي خندا

د آه پـــه تـــاو عشـــق لېـــوني وخنـــدل
شـــونډو د ګـــل کـــې چـــې اغـــزي وخنـــدل

عقـــل بـــه ونـــاڅي احســـاس تـــه خجـــل
حســـن د غـــم کـــې کـــه زړګـــي وخنـــدل

دود شـــو تکـــل د اســـوېليو پـــه اور
ورتـــه پرهـــر زړه ارمـــاني وخنـــدل

د ګـــل خنـــدا يـــې پـــه لمبـــو ونيـــوه
ســـيلۍ پـــه مينـــه د ســـپرلي وخنـــدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

نـــورد ســـبا د حســـن شـــونډې موښـــي
پـر تونـد(شـمال) بانـدې ماضـي وخنـدل.

۲۰/۲/۱۳۶۶
خوشال لېسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږلنې سترګې

مینه کې د وخت د انګار سره موښم
اور مې د ګوګل په درانه موښم

پرېږده چې څپه د ازمون واړوم
سوزندو سکروټو کې مې زړه موښم

بله دې لمبه کړه د مغرور نظر
چا ویل چې زړګی مې په کې نه موښم

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــه ولــې د عشــق لــه زوره ځنــګ کــوې؟
اور کــې خــو د مینــې ځیګــر زه موښــم

ســتا خوږلنــو ســترګو کــې اشــنا پــه عشــق
زړه مـــې لکـــه وړه پـــه تنـــاره موښـــم

نــور دې بــه خــوږو کــې احســاس ولــړي
زه خــو مــې شــعرونو کــې ترخــه موښــم

بــوی بــه کړمــه یــاره ســتا د حســن ګــل
نــن چــې یــې اغــزي پــه ګرېوانــه موښــم.

۱۸/۱۱/۱۳۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژړغوني آه

د ژړغـــوني آه پـــر شـــونډو تلوســـې وځلـــي
د عشـق پـه عقـل کـې چـې مینـې تـه اسـرې وځلـي

واوړي تکـــل د اور تـــر پولـــو پـــه تمـــاکو پښــو
د مســـتقبل پـــر اننګـــو چـــې ارادې وځلـــي

شعره ! د اوښکو حسن ښکل کړه په چاودلو شونډو
چې د ویـر بحـر کـې دې عشـق څپـې څپـې وځلـي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لامبي ځپه چې ستا د خوند زما د اوښکو په سیند
د پرهـــري امیـــد پـــه ســـترګو مـــې ګیلـــې وځلـــي

داسې مې ښکاري د سور کي زړګي پولې له لرې
لکـــه د یـــار پـــه اننګـــو کـــې چـــې خـــولې وځلـــي

واړوه عشـــقه ! د تنکـــي ارمـــان غـــوټۍ مـــې پـــه اور
اخـر بـه سـتا د هـوس سـیند کـې هـم لمبـې وځلـي.

۱۲/۱۰/۱۳۶۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر کاڼو لاندې

زړه نه لمبې چې د خندا وتلي
ورته له خولې نه مې د تا وتلي

دا چې هغوی په زغرده خاندي پر موړ
څه شی دې زړه نه ورته بیا وتلي

ټول قوتونه د پردیو دلته
ښکاره راغلي دي په غلا وتلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اسـمعیل تـر کـانو لانـدې کـړئ ښـه
بیـا یـې لـه خـولې ځنـې رښـتیا وتلـې.

۱۳۶۷ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې میاشتې مخکې

درې میاشتې مخکې
زه او یار مې سره
سترګې پر سترګو شولو
ما د هغې سترګو کې
هغې زما سترګو کې
د یوه ژوند د امیدونو کیسه وکړله
سره موسکي شولو او ومو خندل
بیا د هغې سترګو کې
زما د هیلو امیدونو انځور وګرځېده
او بیا زما سترګو کې
ددې د سترګو تصویر پاتې شو
تر او سه پورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه چاته چې ستر ګې يې زما
ستر ګو ته خوا ږه راکوي

نور دې د ستر ګو په خوږو کې ستر ګې نه موښمه
نور دې د ګرمو اننګو په ګرمو ميو نظر نه ډوبوم
نور دې د نرمو ښکلو شونډو د خوندونو سيند کې نه لامبمه
رانه هېرېږې
رانه هېرېږي د ستي هيلو ساړه اسوېلي
د غيرتي اوښکو مست رود ، د وينو مستې ځپې
د منصوري وطن د وينو ليکې
د غم او اور د توپانونو سترې شوی کاروان
نو راته مه ګوره خوږې خوږې په ښکلو ستر ګو
او پر احساس مې د سرو شونډو د خوندونو خواږه مه اوروه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې رانه هېر نه شي
ددې وطن د هر بچوني د ویرونو فریاد
د وینو رود د اوښکو سیند
او د ځوانانو او زلمو کتار کتار جنازې
کتار کتار...

۱/۴/۱۳۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وینو رود نیل

احساس پر عقل بلې کړې لمبې په لپو لپو
جنونه په سر واړوه نشې په لپو لپو

د شونډو تبسم دې رانه ګرد د غم ونه لید
د زړه وینې که غرپ کړې زمانې په لپو لپو

موسکۍ شه د سورکي پرهر د وینو رود نیل ته
حسینې د کوه ترښه پیالې په لپو لپو

لذت کې د خندا دې چې لاهو شي خوند د نورو
په سترګو کې مې تاوې شي ګیلې په لپو لپو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اغــزو د ګــل د پـــاڼو تبســـم دی پـــه اور ســـوی
پـــه زلفـــو چـــې دې ټـــومبم ترانـــې پـــه لپـــو لپـــو

هوس دې د ښایست بیا د جنون په سینه کې لامبي
د عشـق پـه زړه مـې موښـي چـې ایـرې پـه لپـو لپـو.

۲۱/۲/۱۳۶۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وير سکروټې

عشـــقه زوروريـــې خـــو تـــوبې مـــه مـــاتوه
شـــونډو د اشـــنا تـــه اوســـېلې مـــه مـــاتوه

پـــروت پـــه کـــې لـــذت دی د زمـــان د لېونـــو
پـــام کـــوه ســـاقي ډکـــې پيـــالې مـــه مـــاتوه

ځـــو اشـــنا پـــه عشـــق کـــې پـــر اغزنـــه خـــوني لار
غـــبرګې د وصـــال تـــه ارادې مـــه مـــاتوه

وکـــړه پـــه مغـــرور نظـــر خـــوارېه کاتـــه
تاتـــه مـــې اســـرې دي دا اســـرې مـــه مـــاتوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

موښـم نـن پـه شـونډو سـتا سـره ښـکلي اننګـي
کـړې دې وعــدې وې اوس وعــدې مــه مــاتوه

خیـر کـه زه دې وریـت کـړم پـه سـکروټو کـې د ویـر
څانګـــه د امیـــد مـــې زمـــانې مـــه مـــاتوه

راز د محبـــت پـــه کـــې نغښـــتی دی د یـــار
ســـویه اســـمعیله زولنـــې مـــه مـــاتوه.

۱۳/۱۱/۱۳۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوښکو جنازې

پر سوي مخ مې دي رواني سلسلې د اوښکو
راته خندېږه او کوه مې تماشې د اوښکو

چا مې پر شونډو د خندا د څپې ځل ونه لید
عشقه ! ګرم نه یمه راغلي مرحلې د اوښکو

د کوم احساس له خولې نه وځي د زګېرویو کتار
چې د شعر سترګو نه مې خوشې دي ويالې د اوښکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا بـه تصـوير د چـا د ويـر وي انځـور كـړی قلـم
ځكـه يـې نـوكې نـه تـويېږي ترانـې د اوښـكو

څـومره د مكـر تخيـل تـه كښـته شـوي نـرم !
پـه نـوم د ميـو راتـه مـخ كـې ږدي پيـالې د اوښـكو

ځنګـه بـه ګـاټي متكـور نـه شـي د سـترګو زمـا
چـې شـپه او ورځ ترېنـه تـاوېږي سـرې لمبـې د اوښـكو

شـي بـه كـرېږ د يـار مغـرورې سـترګې عقلـه كـه نـه؟
چـې ورتـه يوسـم سـترې شـوې اندېښـنې د اوښـكو

سـتا د لـذت نـاظر دې سـبزي د عشـق هيلـه زمـا
اخـر بـه ورم د خنـدا كـټ كـې جنـازې د اوښـكو.

۲/۲/۱۳۶۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

له جېل نه... ګيله

((ته په وړو کي جېل کې
موږ دلته لوی زندان کې))
د يوې مينې د ارمان په هيله وسوزېدو
ته خو لا ښه وې
د خوږې مينې د پاڅو شنه دودونه دې ونه ليدلو
موږ ورته ښه کتلې
چې مو د مينې سره ګلونه د يارانو د لمبو
د سمندر څپو کې وسوزېدل
ژبه مو ګونګه وه ترلې وه د اور د دار په
مستو ليکو
چغې مو نه شوې وهی
ښه مو ليدله خپله مينه د انګار د سمندر ګوتو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانې یې ورژېدې
خندا یې وچه شوله
او لیلا یې حسن یې مړاوی شو د درد په چړو
خو مینه مړه نه ده لا
پام چې نهیلي نه شې
اوس نو زمونږه مینه
زما او تا غوندې یو څو لېوني
په مینه مست ځیرې ګرېوان
او سربېري غواړي
چې ورته وناځي لمبه شي
او د خپلو زړګو د وینو مستې فوارې
ورته امېل امېل کړي
بیا به زمونږه مینه
له خندا شنه شي
او ګلونه به یې بیا زلفو کې وتوکېږي
او بیا به مونږ لېوني
هم ورته هلته له خندا نه شنه شو.

۱۲/۲/۱۳۶۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لمبو څاڅکي

د نن په ائينه کې چې موسکی راته پرون دی
اشنا دادې ادا ده که جادو او که جنون دی؟

د کوم يو ګل پر شونډو د خندا سندره شنه کړم
پر پښغلو پسرليو مې راغلی چې کونتون دی

په ګرمو شونډو خاندو خو يو بل ښکلوی نه شو
زما و ددې ترمنځ څه د ډيورنډ کرښې تړون دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

منمه د ((شمال)) د لمبو څاڅکي دلته نه شته
ددې ګلبڼ پر پاڼو یې پرې ایښی خو طاعون دی

کوم چا که د رښتینو لېونو پوښتنه وکړه!
په دغه وران مالت کې خو یې یو استازی یون دی.

۲۳/۸/۱۳۶۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خندا قتل

موږ د خدای په کتابو
او د نبي په احاديثو کې
دا لوستي وو چې:
قتل د روح لويه ګناه ده په ژوندون کې د چا
او ملايکې د خدای ذات دي
چې له ټولو ګناهو نه پاکې
خو اوس کلونه کېږي
چې تر مودو نه مخکې
زموږ د سوي زړه د مينې کور نه
د بېګناوو ماشومانو او ځوانانو
د ژوندون جنازې
د فرښتو په بېګناوو ګوتو
ځي د اسمان غېږې ته
نو اوس د مينې تخيل کې د وجدان

(c) ketabton.com: The Digital Library

او عاطفې د سمندر پر څپو ناستو
د احساس بڅرو
ووايئ چې:
دا بېګناه‌او معصومې فرښتې به‌زياتې
د نازولو ماشومانو د تنکۍ خندا په‌قتل
ګنهکارې نه‌شي !؟

۲۶/۴/۱۳۶۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آه سکروټې

د درد په ژرنده دل نه شوې زما د عشق نینې
د نرمو شونډو ځل نه شوې زما د عشق نینې

د سوز په اور چې اوړې نن د مکر په خوږو
د چا د زلفو ول نه شوې زما د عشق نینې

تناک امید مې واړوه تر پولو د ازمون
لمبو ته بې تکل نه شوې زما د عشق نینې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چا د مينې سينه کې مې احساس غوټې وهلې
چې بندې په اجل نه شوې زما د عشق نينې

د آه سکروټو دود کړلې بټيو کې د اور
پوليو سره مل نه شوې زما د عشق نينې.

۲۶/۹/۱۳۶۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

غيرتي لېمه

زما د مينې ښکلا
لکه بېباکه ماڼو
د قهرجنو لمبو
د سيند په مستو څپو
تاوه راتاوه شوه
او ډوبه شوله
او د اميد هيله مې
د اور په غېږه کې په نرمو پښو
په اسوېلو اسوېلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونځېده

خو زه هغسې چې پخوا ومه څه

هسې به یم هسې به او سمه لا

نه به د چا خندا ته وخاندمه

نه به قبلې ته د ښکلا او حسن

د خپل غیرت لېمه کاږه ونیسم.

۴/۱۰/۱۳۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

دميو اباسين

د مينې څرېکه مې د وريت زړګي پردو کې ځلي
عشقه ګناه دې زما سويو اسوېلو کې ځلي

چا مو د مينې د جانان زلفو ته اور ونيوه
چې شنه دودونه يې زموږه په شعرو کې ځلي

دا خو زما د اسوېلو د تپ تاونه وينې
ځکه خواږه يې د سرو شونډو په سرو کې ځلي

زما د عشق ستونی دې لوند نه کړ پرې يو ځلې هم
څه که د ميو اباسين دې اننګو کې ځلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـا م چـې پـه تریـو نظـر یـې حسـن تـه نظـر ونـه کـړې
د خو شـا ل تـو ره مـې تر ا و سـه لا پښــتو کـې ځلـي.

۲۱/۴/۱۳۶۲
خو شا ل لېسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوښکو سمندر

وخت چې له غوسې نه سور تکل ته شونډې وسپړي
ژوند په اوښکو لوند شي او اجل ته شونډې وسپړي

مينې سمندر د سپينو اوښکو په ځير ونه ليد
اوس به نو زړګی د چا تسل ته شونډې وسپړي

تاوه شي ترخو کې د احساس د فرياد چغه پرې
دا د غم قلم مې چې غزل ته شونډې وسپړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډوب چې وي زړګی د اورني غم په سيندونو کې
چېرې به حسينې ستا وربل ته شونډې وسپړي

ورغړي تنهاک هوس ماحول د اغزيو کې
عقل او اميد چې مستقبل ته شونډې وسپړي

تاوه کړه لمبه د ګرمو شونډو په سينه کې مې
وريت ويده زخمونه به يې ځل ته شونډې وسپړي.

۱۳۶۲ل کال، تله

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خوږو مکر

تـهـاک ځیګـر مـې حسـن پـه سـپرغیو سـولوي
د آه اوښـکه مـې عشـق پـه مایوسـیو سـولوي

د عقـل د احسـاس سـترګو ونـه لیـده پرهـر
د وخـت د اور پـه زور یـې پـه اغزیـو سـولوي

خنـدا یـې سـمندر شـي زمـا درد تـه پـه هـوس
د مینـې د بـڼ ګـل مـې پـه سـیلیو سـولوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عشـق د خـوږ مکـر تـه نظـر کـړئ اوښـکو نـن !
پــه شـــوندو بانـــدې آه د لېونيـــو ســـولوي

د درد پـه کړايـي کې پـه زړګـي شـي خـود لـوګی
خـوږې زلفــې چــې يــار پــه اننګيــو ســولوي

د سـور مسـتقبل تـال کې بـه عشـق وزانګـي اخـر
خنــدا کــه نــن اميــد پــه اســوېليو ســولوي

۲۹/۷/۱۳۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارام سمندر ته !

ولې غلی او ارام يې
ته خبر يې چې څه وشول او څه کېږي
د نړۍ په وچو غرونو ، سپېرو دښتو ، ځنګلو کې؟
ته خبر يې چې څه اوري
د اسمان له ګرېوانه نه
د بېوسه روح پر مینو ؟
ته خبر يې چې ټول ژوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو د بل د ژوند په بیه د ژوندون شپې رانیسي؟
ته خبر یې د وحشت د پاچایانو
واکمني د قاف له غرونو ان زموږ تر کوره رسي؟
ته خبر یې چې زموږ د کلي خوا کې
هره ورځې د کارغانو ډلې ډلې
د وګړو پر سینو باندې ټونګې کړي؟
که نور هم غواړې همداسې:
چې ماران او خمڅرې دې
د سیسیو بچې وخوري
او پر سمه لویه لار دې
د لېوانو کاروانونه
د شپنو په رمو ګډ شي
که نور هم غواړې همداسې
چې بیا هم روحي وګړي
د چا مینې ته اور ورکړي
د چار روح کړي تیږو لاندې؟
نو که داسې نه وي خو ځه
تر پېړیو زغم نه وروسته
په څلور کونجه دنیا کې
د توپان نغمه خوره کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې نړۍ له بوی شي پاکه
او شي رنګه پاچاهي د ځناورو ، ګنهکارو هوسونو
او څو تنه بېګناه به
شي سپاره د نوح بېړۍ کې.

۲۲/۴/۱۳۶۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تېزابو باران

زما د عشق د تنکو هیلو سترګې
لا د هوس د خوړلنیو په بڼ
د ګل پر پاڼو غوړېدلې نه وې
چې تا د قهر د تېزابو باران
د اورني اسمان له شونډو څخه
په زغرده زغرده پرې راوه وروه
او د تنکۍ مینې په سترګو کې دې
د وير لمبه په خندا تاوه کړه راتاوه کړله.

۲۶/۲/۱۳۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

سندرغاړي

د ختيځ- لوېديځ وګړو !
د مرګي له وېرې مړاو مړاو هيلو !
د ژوندون په جبل کې بندو د نړۍ د هوسونو پاچايانو !
او د عشق د رنګينيو د سيندو مستو څپو کې
ستړو ستړو ماښو ګانو !
د ژوندون هره شېبه مو
د نڅا و خنداګانو په تالونو کې کړه تېره
په هر رګ کې د وجود مو
د عطرو وينه جاري کړئ
او هوس هوس زړګو ته
د خوښيو لمبې غړپ کړئ !
چې کلونه مو دې وشوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرګونو سندرغاړي
زموږ کور کې مېلمانه دي
هغه لويه هوجره ګورئ !
چې شاوخوا يې د زمزم ويالو نيولې
او په مخ کې يې د توتو انګور تاکو ونو شين
سيوری جوړ کړی
په همدغه ځای کې ناست دي
يو سپين ږيری په کې نه شته
ټول ځوانان ترېنه راتاو دي
په هر وار چې ترنګ او ترونګ شي
له څو تنو روح جلا شي
بس کلونه مودې وشوې
چې زموږ د کور هوجره کې
سندرغاړي مېلمانه دي.

۲۲/۴/۱۳۶۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طاعون په لوپټه کې

د طاعون په لوپټه کې
د سرزورو احساساتو
شینکی فصل ټوکېدلی
د یاغي مینې په تور یې
لاس و پښې دي پرې ترلې
د اجل ورږمه پرې اوري
رژوي یې خنداګانې
خو د روح قاتلان (دواړه)
ورته ګوتې پر غاښ ناست دي
وایي څه متکور عشق دی
وایي څه لمبه جذبه ده
د اورونو ټال کې زانګي
د ژوندون سندرې وایي !؟

۵/۲/۱۳۶۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د احساس لوخړه

ما د لمبو د ترحم په سیند کې ولمبوئ
او د حسین قهر په سترګو کې مې
د تونديې مینې د احساس لوخړه
د اور په غېږه کې د ویر په تنور
د اور لړوني غونډې تاوه کړئ
د مینې په لاس
څو چې د عشق له کاڼو سترګو څخه
د سوزېدلي احساس کړیکه باندې
د عاطفې اوښکې راوڅڅېږي
او د جنون پر دود وهلې دښته
تنکې تنکې ګلان راوټوکېږي.

۲۵/۲/۱۳۶۶
خوشال خان لېسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادګارونه یادګارونه

ما درته لیکلي وای شعرونه او شعرونه
تا زلفو کې ایښي وای ګلونه او ګلونه
ما په وچو شونډو درنه کړي وای سوالونه
تا په زړه را ایښي وای زخمونه او زخمونه
ما ژوند ته نیولي وای دارونه او دارونه
ستا شونډو خندا کړای غورځنګونه غورځنګونه
زړه کې زما بل وای سره اورونه سره اورونه
ستا ژوندون ډیوې وای څراغونه څراغونه
دغسې وای هیلې او همداسې ارمانونه
ما ورته ژړلی تا خندلی ولونه ولونه
حسن به د تا و داستانونه داستانونه
ژوند به تول زما و یادګارونه یادګارونه.

۲۱/۷/۱۳۶۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

کانړو ونه ژړلې

عشق د هوس په لمبو
د مستو کـانړو د خندا په څپو
د تـېزابـونو د اورونو ژرنده
تاوه راتاوه کړه د درد په وينو
او د اميد د ګلو موسک نظر يې
د غم پر ليکه په اور واړاوه راواړاوه د حسن په زور
خو کانړو ونه ژړل
لاهسې خاندي له خندا نه شنه دي
د عـشق لـمبو کې اميدونه کري
زړو د اغـزيـو کـې ګلـونـه کري
د خوږې مينې د ښکلا په اميد
د سرو سکروټو سره تخمونه کري.

۱/۱/۱۳۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېږتونخور

ځنګ ته ناست ومه د ونې
د ټپې پرېشانۍ خیال مې سترګې ورو ورو خوبولې
پام مې شو د ونې ډډ ته
یو سورکي مېږتونخور پرې خپل وزرونه رپولو
اوږده ژبه یې له خولې نه بهر کړې په هنروه
چې مېږیان به پرې راټول شول
لکه غرپ د مستو میو به یې تېر کړلو له ستونې
د خوندو د عشق لمبو و مخ په پورته روان کړی
ورو نږدې شو د غومبسو د ژوندون د ځالې ځنګ ته
چې ټول عمر وې له تندې جل وهلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له غوسې نه تکې سرې په اور کې تاوې
کړه یې ژبه ورته مخکې په هنر په مکر وړاندې
یو ناڅاپه سرو غومبسو یې پر ژبه پر مښوکه
او پر سترګو
زهرجن نیشونه ښخ کړل
((لس یو ولس شپېږ)) وروسته مې کتل چې:
درد کې تاو مېږتو نخور
د ونې ډډ نه راګوزار شو.

۱۴/۲/۱۳۶۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امید څانګه

د زړه کور کې مې د شعر غوټۍ غوړېږي
د خزان سره سیلۍ ده رژوي یې

د امید څانګه چې لږ شانته اوږده شي
د ظالم په لاس کې لور دی پرېکوي یې.

۱۳۶۵ل کال
خوشال لېسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسرافیل شپېلۍ

د اورنیو اغزو زړه کې ښکلا چېرته لګي
د سوو شونډو په لمبو کې خندا چېرته لګي

زما د زړه د پرهرونو سره او شنه ګلونه
ستا د خمارو زلفو ول کې اشنا چېرته لګي

منم احساس مې د اورونو زړو کې ګل ټوکوي
خو ستا د بزم رنګینیو کې دا چېرته لګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خانده په کړس مې د تناکو شونډو لیکو باندې
د خوږلنیو په محفل کې ګدا چېرته لګي

د اسرافیل د شپېلۍ غږ ورته را ورسېده
د پښتنو سپېره وطن کې رڼا چېرته لګي

خود ستا د مینې د رنګینې کوځې ګوټ ته نه ځم
د میو ډنډ کې د سرو اوښکو ځلا چېرته لګي.

۱۱/۷/۱۳۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جنګ باج

ارمان د اوښکو نازولو وخوړ
لکه موسکی شبنم چې ګلو وخوړ

د دې ګلاب ګلاب وطن حسن مې
څه هم پردیو څه هم خپلو وخوړ

چا ته لمبه لمبه احساس وښیم
وطن زموږه نابللو وخوړ

څه بې پښتو شول پښتانه د وختو
باج د جنګونو تږې مغولو وخوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یــو اســمعیل پــه دغــه لــوی کلــي کــې
نـــیم نــازولو او نـــیم ښـــکلو وخـــوړ.

۱۳٦۷ال کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سیند په منځ کې

چې د نن پر زلفو وتړو مبم ګلان کتار کتار
لکه شنه چې پسرلي کړم پر بیابان کتار کتار

دا خوږې خوږې خبرې دا خوږې وعدې مې خیال کې
ته کوې د جنت حورې او غلمان کتار کتار

پس له مرګه به زموږه یوه ورځ همدا سې راشې
دریدلي به وي دار ته رهبران کتار کتار

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه اولـې مينــې وسـو څـه خـوږې يـارانې دود کـړو
اوس ولاړ د سـيند پـه مـنځ کـې پښـېمان کتـار کتـار

بـس همـــدا د ســاده ګـانو د ســندرو غــزل وايــه
چـې تـرې وخـي هـره ورځـې هوښـياران کتـار کتـار.

۱۳۶۹ل کال د وري مياشت

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوی ګودر

ستـــــرګو اوتـــــرو ورتـــــه هـــــېځ ونـــــه وې
د زړه ســـــندرو ورتـــــه هـــــېځ ونـــــه وې

لویـــــه څپـــــه د اوبـــــو راغللـــــه پـــــرې
د اور بڅـــــرو ورتـــــه هـــــېځ ونـــــه وې

هغـــــوی زمـــــوږه وینـــــې تـــــویې کړلـــــې
زمـــــوږ ملګـــــرو ورتـــــه هـــــېځ ونـــــه وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېــــره لمبـــــه شـــــوه د پرديـــــو دلتـــــه
زمـــــوږ لښــــکرو ورتـــــه هـــــيڅ ونـــــه وې

نظـــر مـــې ښـــکل کـــړې خـــوږې شـــونډې د يـــار
لمبـــــو شـــــکرو ورتـــــه هـــــيڅ ونـــــه وې

د لـــــــيلا ګـــــــانو ګـــــــودر وســــــــوځېده
خـــــو ســـــربېرو ورتـــــه هـــــيڅ ونـــــه وې

اخـــر يـــې ښـــکل کـــړ اســـمعيل پـــه شـــونډو
د چـــــا خبـــــرو ورتـــــه هـــــيڅ ونـــــه وې.

۱۳۶۷ ل کال د سلواغې مياشت

(c) ketabton.com: The Digital Library

مړاوي اننګي

ژونـــد ســـوزېدلو نهيلـــۍ نـــه تو بېـــدلې اوښـــکې
د چـــا د مينـــو جنـــازو کـــې څڅېـــدلې اوښـــکې

شـــهيد و تاســـو نـــه کـــه هلتـــه چـــا پوښـــتنه وکـــړه !
ورتـــه بـــه وايـــئ چـــې وطـــن کـــې بهېـــدلې اوښـــکې

خدايـــه د ســـتا لـــه تـــرحم او لـــه پېـــرزو مننـــه
نـــورې دې وا خلـــه دا ډالـــۍ دا رالېږلـــې اوښـــکې
څـو مره ښـه ښـکاري هلتـه سـتا د موسـکو شـونډو خنـدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلتـــه پـــه مـــړاوو اننګـــو کـــې ځلېـــدلې اوښـــکې

خـــود بـــه د رب لـــه عواطفـــو نـــه ګيلـــه کومـــه
هلتـــه خنـــداوې دلتـــه ولـــې رســـېدلې اوښـــکې

ګـــوره احساســـه هغـــه کـــور کلـــی يـــوازې نـــه کـــړې
چـــې ګرېوانـــو کـــې يـــې ټـــول عمـــر ګرځېـــدلې اوښـــکې.

۲۴/۱/۱۳۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محمد اسمعیل یون لنډه پېژندنه

محمد اسمعیل یون د حاجي محمدخان زوی پر ۱۳۴۲ل کال، د لغمان ولایت د الینګار ولسوالۍ دنیا ته راغلی او په یوې روښانفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د الینګار ولسوالۍ د سلینګار په لومړني ښوونځي کې سرته رسولي دي، تر هغه وروسته کابل ته راغی او په خوشال خان لېسه کې شامل شو. پر ۱۳۶۲ل کال له نوموړې لېسې څخه په دویم نومره بریالی او پر ۱۳۶۷ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې محصل شو. پر ۱۳۷۰ل کال له نوموړې څانګې څخه اول نومره بریالی او پر همدې کال بېرته د پښتو څانګې د کدر غړی شو. پر ۱۳۸۵ل کال په نوموړې څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د ماسترۍ دوره پیل شوه، یون په ډېر ښه او بریالي ډول دا دوره پایته ورسوله.

محمد اسمعیل یون له ۱۳۷۰ل کال څخه بیا تر ننه پورې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي تدریسي غړی او د(پوهندوی) علمي پوړۍ ته رسېدلی دی، پر استادۍ سربېره، استاد یون د ((کابل پوهنتون))، ((هیلې)) او((شمشاد))مجلو د چلوونکي دنده هم په ښه ډول ترسره کړې ده. په پېښور کې د چاپېدونکې ((معارف)) مجلې کتونکی غړی هم و. همدارنګه دیو شمېر نورو چاپي خپرونو همکار هم پاتې شوی دی.

استاد یون پر ۱۳۸۱ل کال، په جلال اباد کې ببړنۍ لویې جرګې ته د ختیزو ولایتونو د انتخاباتو د دفتر مشر شو، ددې جرګې لپاره تر ټاکنو وروسته د جرګې غړی، بیاد جرګې د غړو له خوا د بېړنۍ لویې جرګې دلومړي منشي په توګه انتخاب شو. استاد یون په دې جرګه کې تر خپل وروستي وسه خپل ملي او تاریخي مسولیت ادا کړ او د هېواد دښمنه عناصرو د توطیو مخه یې ونیوله.

تر دې جرګې وروسته، کله چې د افغانستان د اساسي قانون د تدوین بهیر پیل شو، نو استاد یون بیا ددې بهیر لپاره د ختیزو ولایتونو د دارالانشاد دفتر مشر وټاکل شو. په ختیزو ولایتونو کې د اساسي قانون د لویې جرګې لپاره انتخابات هم د همدې دفتر له خوا ترسره شول.استاد یون د اساسي قانون د تصویب په لویه جرګه کې د نومورې جرګې د دارالانشا د غړي په توګه خپل فعال رول ادا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې ټاکل شوې وه، استاد یون په ختیزو ولایتونو کې د افغانستان د جمهوري ریاست لپاره د عمومي ټاکنو د دفتر مسول شي، خو په کابل کې د لویو جنګسالارانو او ځینو تنظیمي مشرانو له خوا پر حکومت او ملګرو ملتونو د زیات فشار له امله له کاره ګوښه شو. ملګرو ملتونو (UNAMA) استاد یون ته وړاندیز وکړ، چې په کابل کې به تر دې لوړه دنده ورو سپارو، خو استاد یون ونه منله او خپلې استادۍ ته یې دوام ورکړ.

درې کاله وروسته یې د ځینو ملګرو په زیات ټینګار او غوښتنه، د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا په دفتر کې د فرهنګي چارو د ریاست دنده ومنله او په کابل پوهنتون کې پر استادۍ سربېره لا تر اوسه دا دنده پر مخ وړي. استاد یون پر ۱۳۸۵ل کال د افغانستان او پاکستان د امن ګډې جرګې لپاره د افغانستان له خوا د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یې هم په ښه ډول ترسره کړه.

استاد یون د خپلو اکیلکوال په توګه په تېرو شلو کلونو کې ګڼ شمېر فرهنګي او ټولنیز خدمتونه ترسره کړي، په ګڼو چاپي، راډیويي او ټلویزیوني مرکو کې یې د و اقعیتونو او حقایقو د څرګندبیان له امله د خلکو په زړونو کې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي. د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم غلط رنګ او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشران دي، د استاد یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه یې په ټینګه مخالفت کوي زه دد ې شاهد یم، هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي، منفي غبرګونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع ګټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبت غبرګونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو استاد یون په دغسې سختو اغزنو او تنګو شرایطو کې بیا هم خپل فرهنګي، سیاسي او ټولنیز کار ته دوام ورکوي.

دا اوسنی فرهنګي کار، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول ګورئ، دا د تېرو شلو کلونو کارونه دي، چې له تېر یو نیم کال راهیسې پرې په منظم ډول کار شوی، اوډل شوي او دادی ستاسو مخې ته اینبودل کېږي، په داسې یو دولتي دفتر کې چې بوختیاوې په کې ډېرې وي، د منظم او ستر فرهنګي کار سرته رسول اسانه کار نه دی.استاد یون پر خپلو فرهنګي کارونو سربېره د ګڼو فرهنګي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توګه هم خپل فرهنګي رول ادا کړی، په پېښور کې یې د دوو المان مېشتو فرهنګي ټولنو (دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او(د پښتني فرهنګ د ودې پراختیا ټولنې) د همکار په توګه د بېلابېلو لیکوالو په لسګونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثار، ایډیټ او چاپ کړي دي دغه راز یې په سلګونو کورنیو مشاعرو، ادبي غونډو او سیمینارونو کې ونډه اخیستې ده، خپله یې هم په لسګونو مشاعرې، سیمینارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

سربېره پر دې، په یو زیات شمېر، ملي او نړیوالو کنفرانسونو کې یې په ښه ډول د خپل هېواد استازي کړې ده. دلته به یې د اثارو یادونه وکړو:

اثار

الف- پنځونې:

کتاب نوم	څرنګوالی	چاپکال
• متکور	لومړی شعري ټولګه	دویم ۱۳۸۷
• په اورونو کې سندرې	دویمه شعري ټولګه	دویم ۱۳۸۷

ب- راټولونې:

• هیلې	ګډه شعري ټولګه	دویم ۱۳۸۷
• نیمګړي ارمانونه	د حیران شعري ټولګه	دویم ۱۳۸۷
• د لوونو فصل	ګډه شعري ټولګه	دویم ۱۳۸۷
• د نازو انا یاد	د سیمینار د لیکنو ټولګه	دویم ۱۳۸۷
• د استاد الفت نثري کلیات	د استاد الفت نثرونه	دریم ۱۳۸۷
• سیندونه هم مري	د اسحق ننګیال شعري منتخبات	دویم ۱۳۸۷

ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه
  د پوهنوال روستار تره کي اثر — دویم ۱۳۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

- .د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه
  د نینسي دوپرې اثر دویم ۱۳۸۷
- په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه
  د پوهنوال روستار تره کی اثر دویم ۱۳۸۷

د - یونلیکنې:

- د اماراتو سفر د اماراتو یونلیک دویم ۱۳۸۷
- که یون دی یون دی د اروپا یونلیک لومړی ۱۳۸۷
- د پښتنو ګون ترڅنډو د امریکا یونلیک لومړی ۱۳۸۷

هـ- څېړنې او شننې:

- د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه دویم ۱۳۸۷
- استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری دویم ۱۳۸۷
- دکابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابتون دویم ۱۳۸۷
- د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه دویم ۱۳۸۷
- د پښتو شعر هندسي جوړښت شپږم ۱۳۸۷
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل دویم ۱۳۸۷
- ساینسي پرمختیاوې دویم ۱۳۸۷
- ببرړنی لویه جرګه ولسواکي او زورواکي دویم ۱۳۸۷
- اندیال خوشال لومړی ۱۳۸۷
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې لومړی ۱۳۸۷
- کلتوري یون لومړی ۱۳۸۷
- فرهنګي فقر لومړی ۱۳۸۷
- مرکه او مرکې لومړی ۱۳۸۷
- خوشال په خپل ایډیال لومړی ۱۳۸۷
- دکتابونو په ورېمو کې لومړی ۱۳۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

- افغانستان په سیاسي کړلیچ کې لومړی ۱۳۸۷
- پښتو لیکنی سمون لومړی ۱۳۸۷
- اوسنۍ رسنۍ لومړی ۱۳۸۷
- که نړیوال ماته وخوري؟ لومړی ۱۳۸۷

خدای(ج) دې استاد یون ته ډېر عمر ورکړي او جرئت دې ورته هم تاند لري، الله(ج) دې دی له هر ډول بدو بلاوو وژغوري، په فرهنګي کارو زیار کې ورته د نور زغم او سبلې هیله لرم.

په درناوي

وفاالرحمن وفا

کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

maṭakor

(collection of poems)

By:
M.Ismael yoon

ISBN 978-9936-500-03-7
9 789936 500037 >

د خپرونو لړ: (۴)

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library